مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۴/۰۴/۰۶

# ړنګ وجود

ما په ځمکه هغه لاره پیدا نه کړه!
هغه لار چې
لکه سره خوړه قالینه د انارو
ستا د کور تر دروازې وه غوړیدلې

هغه لاره اصلن نه وه
هغه لاره وه یو چا راته په سترګو رسم کړې

هغه لاره مې لیمو کې اوسیدله داسې داسې
لکه چا وي په لوګجنې آیینې د کومې ښکلې نجلۍ عکس وي نښلولی
هغه لاره حقیقت کې یوکتاب وه
چې یې پاڼې کوم توپان وې ترې شکولې
کلمات یې لکه پاڼې د انګورو
په هوا کې توتکیو سره یو ځای الوتلې
بس هر وخت لکه یوڅوک عجیب کاروانه رانه کیږي
او ډیر وخت مې په لاسو پسې د بل چا توده غیږه لټولې
نه مې ګل شته
نه باغچه نه هم له پلاره راته پاتې لپه خاوره
خو بیاهم په بارانونو پسې ژاړم
نه مې څوک شته مساپر
نه هم له چایم لیرې تللی
خو بیا هم لکه زر کسه په زر ځایه
هر تم ځای کې ځانته ناست یم د اورګاډو نارې څارم



زه له ځانه هروخت لیرې بل ځای اوسم
او لاسونه مې هر وخت راسره نه وي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ